## د ټا کنو د خپلواک کميسيون پريکړه

| | |
|---|---|
| د پريکړې شميره: | ۱۸ـ ۱۳۸۹ |
| موضوع: | د هغو ۸۳ کانديدانو لست چې په وسله والو ډلو کې د غړيتوب او يا د ناقانونه وسلو په لرلو تورن وو؛ د ولسي جرګې د کانديدانو لپاره تمويل شوي اعلانونه |
| مرجع: | د ټاکنو د خپلواک کميسيون د دارالانشاء رياست |
| وخت، نيټه او د ملاقات ځای: | د ۱۳۸۹ هـ ل کال د غبرګولي ۱۷، چې د ۲۰۱۰ زيږديز کال د جون له ۷ نېټې سره سمون لري. د ټاکنو خپلواک کميسيون مرکزي دفتر. |
| حاضرغړي : | ښاغلی فضل احمد معنوي ، ښاغلی ستر جنرال محمد ايوب اصيل ، آغلې مومنه ياري ، آغلې مستوره ستانيکزی، ، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی قاضي سليمان حامد او ښاغلی عبدالخالق حسيني پشه ئي . |

د افغانستان د اسلامي جمهوريت د اساسي قانون د ۱۵۶ مادې پربنسټ،

**د ټاکنو خپلواک کميسيون په اجنډا کې د شاملو موضوعاتو په اړه لاندې پريکړې وکړې:**

1. د هغو ۸۳ کانديدانو لست دي چې په وسله والو ډلو کې د غړيتوب او يا د ناقانونه وسلو په لرلو تورن وو د هغوی د برأت په اړه د ضميمه شوو مکتوبونو سره يوځای د ټاکنو د شکايتونو کميسيون ته وليږدول شي.
2. د بودجوي امکاناتو او وخت د نشتوالي له امله د ۱۳۸۹ کال د ولسي جرګې د ټاکنو د کانديدانو لپاره تمويل کړل شوي اعلانونه لغوه شول.